مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین
+

پښتو ژباړه: رحمت آریا

۲۰۲۴/۰۴/۱۱

# د افغانستان سیاسي - تأریخي - جغرافیوي ژورنال
# شپږم ټوک

۳۶۴ مه پرله پسي برخه

## کابل
## او د افغانستان سویل – ختیځ

ایډیټ:
ډاکټر لوډویګ آدمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA

1985

**ناوُر:** یا: ناوَر: ۵۰ – ۳۳، ۴۵ – ۶۷ : ناوُر د غزني د ولایت یوه ولسوالي ده چې ۵۸۱۶ کیلومتر مربع مساحت لري او د وګړو شمېر ئې چې بزګري پرګنې دي د ۲۵۷۱۱ تر ۳۹۱۰۸ تنو پورې اټکل سوی دی. دا ولسوالي له لویدیځ لوري له شهرستان او وَرَس سره، له شمال لوري له بهسود، له ختیځ لوري له داې میرداد او جغتو او له سویل لوري له قره باغ، جاغوري او مالستان سره ګډه کرښه لري. ناور ۲۸۲ کلي لري چې ۱۹۸ کلي ئې له ۵۰۰ تنو څخه ډېر استوګن وګړي لري. لنډ مهالي مجلې د دې ولسوالي د عمده کلیو لیست په لاندې ډول وړاندې کوي :

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| المقصود «المقصودِ برجه گي» | | Altan | اتلان | Abdara -i -Qar Nala | | آب درهٔ قار ناله | |
| نجارا «گردان نجارا» | | باریکي «بره کي» | | باریک جوی | | واسع محمد | |
| بوني بهرام "بوني باران" | | سید پیر نظر | | باریک او/ آب | | Najara (Gardan Najara) | |
| Jiska | جسکه | Top Garmak | توپ گرمک | تر بولاق | | Bahai (Bai) | بهایي «بای» |
| خاطر خوش «قریهٔ خاطر خوش» | | Hesarak -i- Nahur | | حصارکِ ناهور | | قریهٔ جوشان | |
| داني جوشي «داني یخ شي» | | قریهٔ دو آبي | | مهر علي | | Khar Murdah | خر مرده |
| زرد ریګین کته قلا "زرد ریګین" | | Dahan Barikak | | دهان باریکک | | Dani Joshi (Dani Yakhshi) | |
| دِهٔ جان بیگ | | شاه جوی | | سبزناله | | Zard Regin -i -Kata Qala (Zard Regin) | |
| Tughan | توغان | Katar | کتار | جوی قول | | شینه | |
| Shaghna | شغنه | Sarpaye | سرپایي | دِهٔ سکندر | | Wagha Jam | واغه جم |


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| سوخته جنگل | | سنگينکِ مهر علي | | قريـۀ سرد کوه | | سرخ ديوار ‹‹سرخ ديوال›› | |
| کاريزک ‹‹کاريزک و تنگي›› | | Qar Nala | قار ناله | شمالتو | | سياه ريگ | |
| کورله ‹‹کورلـۀ خوات›› | | Kak -i -Shahr Khwab (Katok--Shahr Khawat) | | کاکِ شهر خواب ‹‹کوتک – شهر خوات›› | | کوتکِ سبز آب ‹‹سبز آب›› | |
| گرم آب | | Koh -i- Murdah -Sadan (Gaw Murda Wa -Siyah Reg) | | کوۀ مُرده – سادان ‹‹گاو مُرده و سياه ريگ›› | | Korla (Karola -i- Khawat) | |
| ماريد ‹‹مازيد›› | | ميانه بيد | | گرمک | | غريبه ‹‹غريبي علي پناه›› | |
| گردان اتلان | | نو جوی بيد | | مير بچه | | Marid (Mazid) | |
| Warchno | ورچنو | Wagh | واغ | Neka | نکه | Gardan Altan | |
| سر بيد | | Yakhshi | يخشي | Wakak (Okak) | | وکک ‹‹اوکک›› | |
| قريـۀ دوسه ‹‹دوسه جورغي›› | | Qarya -i -Bator (Qarya -i- Jelga Badur) | | قريـۀ باتور ‹‹قريـۀ جلگه بادور›› | | قريـۀ عِمران | |
| دولت بيگ | | قريـۀ پند علي ‹‹پند علي خوات›› | | قريـۀ شتر مرده | | Qarya -i -Dosa (Dosa Jurghi) | |
| چراغ سنگِ ناور | | Khawat | خوات | Aludani | آلوداني | Khashi Burjaki | خاشي برجکي |
| Sar Qala -i- Abdar | سرقلای ابدر | Anri | انري | Dahan Suba | دهان سوبه | Dang Aqa Beg | دنگ آقا بيگ |
| قلعـۀ ناوه | | قلعـۀ نادر خان | | Shamak | شامک | Shamaki | شامکي |
| Qotan | قطان | Qobi | قوبي | Qala -i -Nau Pashya | | قلای نو پشيه | |
| Mashota Qala | مشته قلا | کوچي | | خاموش | | قلای چوبي آسياب | |
| Sar Qala- i- Abdar | | سر قلای ابد | | Qaracha | قراچه | Momarak | مومرک |
| | | | | Qarya-i- Hajat Bargali. | | قريـۀ حاجات برگالي | |

**نايک**: نيک: [1]: ۴۴ – ۳۴، ۵۷ – ۶۶: دا د ‹‹بندِ امير›› په درې کې دوه کلي دي چې ‹‹نايک بالا›› او ‹‹نايک پائـين›› نومېـږي او دواړه د سيند په غاړې کې له فيروزبهار څخه ۲/۱ – ۴ مايله کوز واقع دي ؛ دواړه کلي په ګډه د هزاره سيدانو ۷۰ کورونه لري. (ميتلند)

**نايک** : نيک: ـ ۳۴، ـ ۶۶: دا د يخ ولنګ په ولسوالي کې يو کوچنی منځغری يا ميان کوه دی چې مخ پر سويل ځغليدلی او د ‹‹بکک›› له کوتل سره موازي پرمخ تللی دی. (ميتلند)

* **نايک**: نيک: ۵ – ۳۴، ۳۴ – ۶۷ ‹‹ن››: دا د باميانو په ولايت کې د ‹‹ګيرو قول›› [2] ته نېـږدې د ‹‹ګرم آب›› د سيند په اوږدو کې يو کلی دی. په دې نوم نور ځايونه: د پروان په ولايت کې د ‹‹سرخ پارسا›› په سويل کې د ‹‹غوربند›› د سيند د يوې څانګې په اوږدو کې په ۵۱ – ۳۴، ۳۷ – ۶۸ ‹‹ن›› کې؛ د ميدان په ولايت کې د ‹‹بوم›› [3] د شمال په يو مايلی کې د هلمند د يوې څانګې په اوږدو کې په ۲۷ – ۳۴، ۵ – ۶۸ ‹‹ن››کې.

[1] -NAYAK
[2] -Geruqol
[3] -Bum


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په څير و لولئ

**نظر آباد**: ۲۸ – ۳۴، ۲۱ – ۷۰ «ن»: دا د جلال آباد د ولسوالي د سرخاب په علاقه داری کي د کابل د سیند د ښی غاړې په اوږدو کي ، د کابل د سیند او د سرخاب د سیند د یو ځای کیدني ټکي ته نږدې یوکلی دی. استوګن وګړي: تاجیکان او دهګانان. (جنکینز)

* **نظرخیل**: ۴۸ – ۳۲، ۴۴ – ۶۷ «ن»: دا د غزني په ولایت کي د مقر د سویل لویدیځ په نږدې ۳ مایلی کي یو کلی دی.

**نازیان**: ۷ – ۳۴، ۴۸ – ۷۰ «الف»: نازیان د ننګرهار د ولایت یوه ولسوالي ده چي ۹۱ کیلومتر مربع مساحت لري او د وګړو شمیر ئي چي بزګري پرګني دي د ۲۴۸۵ تر ۴۶۰۰ تنو پوري اټکل سوی دی. دا ولسوالي له شمال لوري له لوی شینوارو، له ختیځ او سویل لوریو له «دور بابا» [4] او له لویدیځ لوري له اچین سره کرښه لري. نازیان تقریباً ۶ کلي لري چي ۳ کلي ئي له ۵۰۰ تنو ډیر استوګن وګړي لري. لنډ مهالي مجلي دا کلي په لاندې ډول لیست کړي دي:

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| سروبي "کروبي" | Surobi (Kurobi) | ترخه | Tarkha | مورچل | Murchal |
| خرموخي یا شرموخیل | Kharmukhi or Sharmukhel | باړه خیل | Bara Khel | لنډی "لنډی کلی" | Landi (Landi Kalai) |
| (لودویګ آدمک) | | | | | |

دا سیمه په ۱۹۱۴ ز کال کي په لاندې ډول شرحه سوې ده:

دا د جلال آباد په ولسوالی کي د باسول سویل ته یوه دره ده. دا دره تقریباً ۸ مایله اوږده ده او له یوې انتها څخه تر بلي انتها پوري په کلا ګانو ډکه ده، د دغو کلاګانو یو شمیر ئي ډیر ښه موقعیتونه دي. دا دره سویل لور ته په یوه تنګي اوړي چي په ډیریو برخو کي د کلا ګانو کتار لري، دا کلاګاني د نالي له بستر سره محدوده سوي دي او اړخونه ئي ډبرین ګړنګونه دي. دې درې کي د شینوارو د سنګو خیلو د ځانګي وګړي اوسیږي؛ په درې کي د ۳۰۰ خاصه دارانو یوه قرارګاه هم ځای پر ځای ده. د افغانستان د برتانوي نیواک پر مهال د جنرال شلتون تر بولني لاندې یو ځواک له جلال آباد څخه راووت چي سنګو خیلو ته سزا ورکړي؛ د دې عملیاتو په ترڅ کي ۸۴ کلا ګاني ونړول سوې، د جنرال شلتون د ځواک تلفات ۵۰ تنه وژل سوي او ټپیان ول؛ په وژل سویو کي د استحکام د انجنیری د برخي "بریدمن پیګو" او "تورن دګلس اې.اې. جي" شامل ول. ( شلتون، آی. بي. سي)

**ناظر**: – ۳۴، – ۶۹: دا د لوګر په کوزې درې کي د «ډهٔ نو» او «کاریز ِ دولت» تر منځ یو کوچنی کلی دی. استوګن وګړي: «نیازیان» [5]. په دغهٔ کوچنی کلی کي په ۱۸۸۰ز کال کي ۲۰ کورنی وی. (کلیفرډ، ایوان سمیټ). اوسنی نقشي د نصر نوم په ۴ – ۳۴، ۳ – ۶۹ «ن» کي ښیي. (لودویګ آدمک)

---

4 -Dar Baba
5 -Niazis


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

**ناظر عبدالوهاب**: ـ ۳۴، ـ ۶۹ : دا د کابل په ولسوالي کې د افشار د سویل په ۱ مایلۍ کې یوه مربع ډوله کلا ده، استوګن وګړي: تاجیکان. تر دې کلا بنونه او کروندې راتاو دي. (کینیډي)

**ناظر علي محمد**: دا کابل ته نیـږدې د چهاردهي په درې کې د تاجیکانو یو کوچنی کلی دی. دا کلی «باغوانا» [6] ته نیـږدې دی او ۳۰ کورونه لري. (آی. بي. سي)

**ناظر خان**: ـ ۳۳، ـ ۶۸: دا له غزني څخه ۱۲ مایله لیرې د «داور» [7] له لارې تر بنو پورې د سرک په اوږدو کې یو کلی دی. دا کلی ۲۵ کورونه لري. استوګن وګړي: اندړ. دلته اړتیا توکي له لرګیو او وښو پرته، نور پریمانه دي، لرګي او وابنه دواړه دلته په قلت کې دي. اوبـهٔ له کاریز څخه دي او پریمانه هم دي. (مک لین)

* **نازُک**: [8]: ۲۳ – ۳۴، ۵۲ – ۶۷ «ن»: دا د میدان په ولایت کې د بهسودو د شمال لویدیځ په شاوخوا ۶ مایلۍ کې یو کلی دی.

* **نازک خیل** :۱۳ – ۳۴، ۲۸ – ۶۸ «ن»: دا د میدان په ولایت کې د «میران» په لویدیځ کې د «درهٔ جلګه» په اوږدو کې یو کلی دی.

* **نکه**: [9]: ۱۱ – ۳۳، ۱۶ – ۶۹: نکه د پکتیا د ولایت یوه علاقه داري ده چې ۱۷۹ کیلومتر مربع مساحت لري او د وګړو شمـېـر ئـې چې بزګري پرګنې دي د ۲۶۱۰ تر ۵۳۹۷ تـنو پورې اټکل سوی دی. دا علاقه داري له لویدیځ لوري له «سرحوزه او اورمه» [10] ، له شمال ختیځ لوري له ځدراڼ، له سویل ختیځ لوري له «زیروک» [11] او له سویل لوري له اورګون سره کرښه لري. نکه تقریباً ۱۹ کلي لري چې ۲۰ کلي ئـې له ۵۰۰ تنو ډېـر استوګن وګړي لري. لنډ مهالي مجلې دا کلي په لاندې ډول لیست کړي دي:

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| صادق | Sadeq | بازَک | Bazak | جنت خیل | | سیپي «شاپي خیل» | |
| Sepai (Shapi -Khel) | | فتح خان کلی | | خواجه خیل | | اشرف خیل | |
| نورَکی | Nurakai | توري «توره» خیل | | Tori (Torah) Khel | | ضرابي | Zarbai |
| باریمي | Barimi | توري خیل منګل | | سره کلا | | سور کوټ | |
| خالي | Khalai | مانه | Mana | اندل خیل «اندړ خیل» | | Andal Khel (Andar Khel) | |
| میردک | Miradak | سیدجان کلی «ګل جان کلی» | | اوښکي | Oshakai | میرادک | Miradak |

6 -Baghwana
7 -Dawar
8 -NAZUK
9 -NEKA
10 -Sarhawza and Orma
11 -Zeluk


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

**نـکه**: دا د دایزنګي هزاره ګانو د بچه غلام د فرعي څانګي يو ټبر دی.

* **نـکاخيل**: [12]: ۵۶ ــ ۳۴، ۲۴ ــ ۶۹ «ن»: دا د کاپیسا په ولايت کې د «غياث خيلو» په مقابل لور کې د پنجشير د سيند د غاړې په اوږدو کې يو کلی دی.

* **نيـکبل**: [13]: دا د پکتيا په ولايت کې «متون» ته د تللي سړک په اوږدو کې د «نادر شاه کوټ» د ختيځ په څو مايلی کې يو کلی دی.

**نيـک پای**: [14]: دا د شيخ علي هزاره ګانو يوه کوچنی څانګه ده. د دې څانګه تقريباً ۲۵۰ کورنی په «دره کلان» او په «دهانه» کې ژوند کوي، دا دواړه د بدخشان د غوري په ولسوالي کې دي. (ميتلند)

**نيـک پای قول**: دا د هزاره په غرونو کې د سرپو يو کان دی چې د لوګر په ختيځ کې واقع دی. ويل کـېـږي چې په همدې ګاوند کې «انتي مني» يا رانجه په اوسپنيني بڼه هم سته.

**نيستي کوټ**: [15]: ۴۰ ــ ۳۳، ۱۶ ــ ۶۹ «ن»: دا يو کلی دی چې د ګرديز د شمال ختيځ په نېـږدې ۶ مايلی کې د ميرزکي کوتل ته د تللي سړک په اوږدو کې واقع دی. د دې کلي استوګن وګړي «امازي غلزي» [16] دي. (آی. بي.سي)

**نيان**: وګوری: انيان: [17]: دا يو سيند دی چې په ۱۶ ــ ۳۴، ۰- ۷۰ «الف» کې موقعيت لري.

**نياسي**: [18]: ــ ۳۴، ــ ۶۹: دا د کابل ــ چارآسيا د سړک په اوږدو کې بيني حصار ته نېـږدې يو کوچنی کلی دی. استوګن وګړي: غلزي. (آی. بي. سي)

**نيازک**: ــ ۳۳، ــ ۶۹: دا په ځمکنيوکې د ځمکنيو له خولې څخه شاوخوا ۳ مايله ليرې يو کلی دی. (کين)

* **نيازګل** :۱۴ ــ ۳۴، ۱۲ ــ ۶۹ «ن»: دا د لوګر په ولايت کې د «نري کوټ» [19] په سويل ختيځ کې د لوګر د سيند د يوې څانګې په اوږدو کې يو کلی دی.

* **نيازي**: ۹ ــ ۳۳، ۴۴ ــ ۶۸ «ن»: دا د غزني په ولايت کې د «مُش خيلو» [20] په شمال ختيځ کې، د «شاران» [21] د ولسوالي مرکز ته نېـږدې يو کلی دی. په دې نوم نور ځايونه: د ميدان په ولايت کې د نرخ په سويل لويديځ کې خروټي ته نېـږدې په ۱۸ ــ ۳۴، ۴۱ ــ ۶۸ «ن» کې؛ د لوګر په ولايت کې د لوګر د سيند په اوږدو کې د «نري کوټ» په مقابل لور کې په ۱۶- ۳۴، ۸ ــ ۶۹ «ن» کې؛ په ۵ ــ ۳۴، ۳ ــ ۶۹ «ج» کې؛ او په ۲۸ ــ ۳۴و ۱۳ ــ ۶۹ «ج» کې.

---

12 -NEKAKHEL
13 -NEKBAL
14 -NEKPAI
15 -NESTI KOT
16 -Amazai Ghilzais
17 -NIAN See ANIAN
18 -Sharan
19 - Narai Kot
20 -Mushkhel
21 -NIAN See ANIAN


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

**نيازي** : دا د پووندہ يوه قبـيـله ده چي ۶۰۰ کورنۍ دي او په لاندې څلورو څانګو ويشل سوې ده:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| منرزخيل | Manrez Khel | ۱۵۰ کـېـږدۍ | مسعود خيل | ۱۶۰ کـېـږدۍ |
| نور خان | | ۲۰۰ کـېـږدۍ | علي خيل | ۸۰ کـېـږدۍ |

د دې قبيلې پاتي برخه د بنو په ولسوالي کې د عيسى خيلو په ګاونډ کې استوګنه ده. دا برخه د برتانيې په قلمرو کې اوسېـږي او کروندګره پاړکه ده. مک موهن وايي چې نيازي هم د لوهانيو په شان له يوې ريښې څخه دي. (د همدې کتاب په نورو برخو کې معلومات راغلي دي.) (لمسدن)

**نيازي**: ۴۵ ـ ۶، ۳۳ ـ ۶۹ «ن»: دا د التيمور په کوتل کې يو کلى دى. دا کلى له دوه وو کوچنيو کليو څخه جوړ سوى دى. استوګن وګړي ئـې سيدان دي. په هغو غرنيو ډډو باندې چې دا کلي ودان سوي دي د کوتل د شمال د سر په ۲۰۰۰ يارډۍ کې واقع دي او که همدلته توپونه ځاى پر ځاى سي نو په خپله کوتل باندې به ښه اغيزه وکړي او همدا شان د سړک په وروستيو ۵۰۰ يارډۍ باندې به هم اغيزه وکړي. له بلې خوا که د نيازي له کلي پورته لوړې برخې ونيول سي نو د لوګر له خوا راتلونکي مهاجم ځواک ته به ګرانه وي چې دا کوتل دې ونيسي. (مک لين، بيشپ)

**نيازي**: دا يوه قبـيـله ده چي د الينګار د درې په يوې برخې کې استوګنه ده. د نيازيو دره د سويل پر لور يو څانګيز منځغرى دى. (ميسن)

**نيازي خيل**: ۴۷ ـ ۳۴، ۱۹ ـ ۷۰ «ج»: دا په لغمان کې يو کلى دى چې د الينګار د سيند په کيڼې غاړې کې د «اکين آباد» [22] د شمال ختيځ په نېـږدې ۲ مايلۍ کې موقعيت لري. د دې ځاى استوګن وګړي ټول غلزي دي. دا لوى کلى له لاندنيو کوچنيو کليو څخه جوړ سوى دى:

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | غلام جان کلا | | ۱۱ | مير محمد کلا | | |
| ۲ | امير محمد کلا | | ۱۲ | پاينده ګل کلا | | |
| ۳ | عز الدين کلا | | ۱۳ | حضرت نور کلا | | |
| ۴ | تينګه وړ کلا | Tingawar | ۱۴ | تک کلا | Tak |
| ۵ | ملک زاهد کلا | | ۱۵ | شرف الدين کلا | | |
| ۶ | فقير محمد آخوندزاده کلا | | ۱۶ | شرف الدين بانده | | |
| ۷ | حسن کلا | | ۱۷ | احمد خان کلا | | |
| ۸ | شرف الدين کلا | | ۱۸ | ملک آدم کلا | | |
| ۹ | امرا کلا | Umra | ۱۹ | عبدالقدير کلا | | |
| ۱۰ | سيد احمد کلا | | | | | |
| (واربرټن) | | | | | | |

**نياز قلعه**: ـ ۳۳، ـ ۶۸: دا د غزني په ولسوالي کې د غزني او د نذير خان د کلا تر منځ يو کلى دى. (مک لين)

[22] -Akinabad


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

* **نیاز خیل**: ـ ۶۹ ، ـ ۴۲ «ن»: دا د کاپیسا په ولایت کې د تګاب د شمال ختیځ په نېـږدې ۵ مایلۍ کې د تګاب د سیند په اوږدو کې یو کلی دی.

* **نیاز الله**: ۱۹ ـ ۳۳، ۱۶ ـ ۶۸ «ن»: دا د غزني په ولایت کې د مشکي د شمال ختیځ په نېـږدې ۸ مایلۍ کې غزني ته د سړک په اوږدو کې یو کلی دی.

**نچنګل**: [23]:۲۴ ـ ۳۵، ۱۲ ـ ۷۱ «ن»: دا په کافرستان کې یوه دره ده چې د کامدیش درې ته نېـږدې د باشګل له بنې اړخ سره یو ځای کـېـږي. یوه لاره ده چې دا ځای د «کنګاني کوتل» [24] سره نښلوي او بیا «پرسن» [25] او د پیچ درې ته تللې ده. دا لاره په دریم مایل کې له «کشتان» [26] څخه تـېـریږي او یو مایل وړاندې ډېـره پراخه کـېـږي. په دیارلسم مایل کې د «منګیله ګل» [27] دره له شمال لوري راځي؛ ویل سوي چې د دې درې له پاسه یوه لاره د «مدوګل» [28] سیمې ته تللې ده. له اتم تر شلم مایل پورې لوړوالی ۳۰۰۰ فیټه دی؛ غرونه وچ او لوڅ دي او یوازې کوچني بوټي او وابښـهٔ په کې موندل کـېـږي. په شلم مایل کې د کمپ وهلو لپاره ښـهٔ ځای سته. لوړوالی: ۱۱۶۰۰ فیټه.

اوس سړک ستوغ د «کنګاني» پر کوتل ورخېـږي، دا لاره د ختلو له سختوالي پرته بله کومه سختي نـهٔ لري. په ۲/۱ ـ ۲۰ مایل کې د دوه «ارماګل» [29] په نومونو له سیمې څخه تـېـرېـږي ویل سوي له دواړو ارماګلو څخه لارې په «وایګل» [30] منتهي کـېـږي. په درویشتم مایل کې د کنګاني د کوتل سر رسېـږي چې ۱۴۶۰۰ فټه لوړوالی لري. په تـېـرو ۳ مایلو کې ۳۰۰۰ فیټه جګوالی راغلی دی. لویدیځ لور ته کوزیدل د «اوژم ژل ګل» [31] له لارې کـېـږي چې لومړی ۱۳۰۰ فیټه ئـې زښت ډېـر ستوغ دي. پرسن چې اوس «ویزګل» [32] یادېـږي د کوتل له سر څخه په شپږم مایل کې رارسېـږي یعني لاره له هغـهٔ ځایه چې په باشګل کې پیل سوی وه ۲۹ مایله لیرې ده. (رابرتسن)

**نجراب**: نجراو: ۵۸ ـ ۳۴، ۳۴ ـ ۶۹ : نجراب د پروان د ولایت یوه ولسوالي ده چې ۵۸ کیلومتر مربع مساحت لري او د وګړو شمـېـر ئـې د ۲۵۹۸۶ تر ۲۸۶۵۲ تـنو تر منځ چې بزګري پرګنې دي اټکل سوی دی. دا ولسوالي له لویدیځ لوري له محمود راقي، له شمال لویدیځ لوري له «درنامي» [33]، له شمال لوري له پنجشیر، له سویل ختیځ لوري له «الا سای» [34]، له سویل لوري له تګاب او کوهٔ صافي سره کړښه لري. نجراب ۱۵۹ کلي لري چې ۱۷ کلي ئـې له ۵۰۰ تنو ډېـر استوګن وګړي لري. لنډ مهالي مجلی دا کلي په لاندې ډول لیست کړي دي:

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ابراهیم خیل | کیکي | Keki | ابراهیم خیل | پچ غان | Pachghan |

23 -NICHINGUL
24 -Kungani pass
25-Presun
26-Kashtan
27-Mungilah Gul
28-Madugal
29-Aramguls
30 -Waigul.
31-Uzhamzhalgul,
32-Wezgul
33 -Durnama
34-Alasai


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولـئ

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| جنگل باغ | | زر شوی | | ارباب خيل | | Abi Khel | آبي خيل |
| لعل خيل „الله خيل« | | Eshno Dara Pota | | ايشنو دره پوته | | قلعـهٔ سربلند | |
| Eskili | ايسکيلي | آهنگران | | Roza Khel | روزه خيل | Omba, | اومبه |
| باقر خيل | | Bakhana (Bakhan) | | باخانه „باخان« | | بابي خيل | |
| بابه صياد „بالاحصار« | | بلا دِه | | باغِ امان | | بازيد خيل | |
| Par Yad | پار ياد | Loka Khel Pachghan | | لوکه خيل پچغان | | Badakhi, | باداخي |
| Dachi Khel | داچي خيل | خواجه غوث | | خواجه غار | خواجه غر | ياسين زي | |
| دولت خان خيل | | دوغ آباد | | دوست بيگ خيل | | Delyar | دل يار |
| Pasha -i- Kharej Dara | پشـهٔ خارج دره | Pasha-i-Pachghan | پشـهٔ پچغان | Pajen | پاجن | دو قومي | |
| Turchiyan | تورچيان | Taruri | تاروري | تاجيکان | | Pand Waras | پند وَرَس |
| جموغه "جمبوغه" | | جرِ فيروز | | جان بابه خيل | | Tuman Khel | تومان خيل |
| چارصفحه „چاد صفحه« | | Jurghal | جورغال | Jolayan | جولايان | Jamjugh (Jambogh) | |
| Aghaz | آغز | Deh Ghawchak | دِهٔ غـَوچَک | Chasht Kohi | چاشت کوهي | Char Safha (Chad Safha) | |
| Chakanda | چکانده | Dara Jay | دره جای | Turnak | تورنک | لغمان | |
| حسين خان خيل | | حاجيان | | حاجي خيل | | Cocha Khel | کوچه خيل |
| تورخيل | | کندوخيل | | ارسلا خيل | | حيدرخيل افغانيه | |
| دِهٔ خاکي | | Dara Kalani | دره کلاني | خسرو خيل | | حيدرخيل فرخ شاه | |
| Deh Malo | دِهٔ ملو | Deh Pachkam | دِهٔ پچکام | Deh Lashi | دِهٔ لاشي | دِهٔ قاضي | |
| اسکيني دره پته „رشکين« | | آب چشمه | | ملا خيل | | دِهٔ نو | |
| Sabat | سبات | Zendah Ghin | زنده غين | زکريا خيل | | Askini Dara Pata (Rashkin) | |
| جمعه خيل | | Shagheri (Seghri) | | شاغيري „سغري« | | Serghi | سرغي |
| نو جوی | | Loka Khel Dara Pata | | لوکه خيل دره پته | | سلطان شاه خيل | |
| شريف خيل | | شجاع خيل | | Sayyidum Khel (Sirum Khel) | | سيدم خيل „سيروم خيل« | |
| شيرواني سفلى | | شيرخان خيل | | شيخان | | شافعي خيل | |
| ظهري | | Tula (Taka) | توله „تکه« | صالح خيل | | شيرواني عليا | |
| عمرخيل | | Alin | الين | Kurah | کوره | عبدل خيل | |
| عيار خيل سفلى | | بابای خيل | | ولي خيل | | دره فرخ شاه | |
| دِهٔ روان „دِهٔ غوري« | | عيارخيل عليا | | Zolm Khel | | زولم/ ظلم خيل | |
| غين پچغان „غين بچ خان« | | Ghundara | غن دره / غونداره | Ghachulan | غچولان | غازي بيگ خيل | |
| فرخ شاه خيل | | Ghora (Ghorah) | غوره | Ghojan | غوجان | Ghin Pachgan (Ghani Bachakhan) | |
| Qalacha, | قلاچه | Qer Ghash | قرغاش | ولي خيل | | بابای خيل | |
| قباد خيل | | قلعـهٔ خواجه | | قلعـهٔ خنجر | | قلعـهٔ غني | |
| Kulhud, | کـُلـهـُد | Qaylai | قيلي | Kam - sar | کمسر | کاکاخيل | |
| گل کوه خيل | | Kurma | کورمه | Kamanduk | کمن دوک | Gomman Garan | گومان گران |
| محمدخان خيل „محمد جان خيل« | | Matan | متان | Lik -i -Lama | ليکِ لاما | Galhin | گلهين |
| مير خواجه خيل | | مير خان خيل | | ملا غش „ملا غني« | | Mazur Khel | مازور خيل |
| Namol (Nalon) | | نامول „نالون« | | ملک خيل | | فيروزي | |
| وقسار „وامق سر« | | Nalkha | نلخه | Naghari | نغری | Nakhchicha | نک چيچه |
| همايون | | Wehar | ويهار | Weshar | وشر | Waqsar (Wamiqsar) | |
| Spin Kundi | سپين کندي | Aspa Khel | اسپه خيل | ياسين خيل | | Hura (Hoda) | هرا „هدا« |
| Kiligai | کيلي گی | ناوه خان | | Farz Khel | فرزخيل | Pachi Khel | پاچي خيل |
| تپـهٔ احمد بيگ | | Khozertan | خوزرتان | Sehdeh | سه دهٔ | Shah Ka Khel | شاه کا خيل |


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| تورخان | یحیی خیل | Baborki Khel | ببروکي خیل | دولت خان خیل | |
| | | Soka Khel | سوکه خیل | Pasha Deh | پشه دِه |
| (لودویگ آدمک) | | | | | |

دا ساحه په ۱۹۱۴ز کال کې په لاندې ډول شرحه سوې ده:

دا د تګاو او پنجشیر تر منځ یوه دره ده. موږ ګومان کوو چې نجراب د کوهستان د څلورو علاقه داریو په منځ کې یوه علاقه داري ده؛ خو د دې درې په هکله زموږ په لاس کې لږ معومات دي او نقشه ئې نـهٔ هېڅکله ده اخیستل سوې.

د نجراب د سیند اوبـهٔ د پنجشیر سیند ته «کوره کند او» [35] ته نېـږدې ورغورځي؛ دا هغه کوتل دی چې د تګاو د درې سر له نجراب سره نښلوي. له دې ځایه لږ پورته د پنجشیر اوږده دره له نجراب سره له ښې لاس څخه یو ځای کـېـږي او د دې له سره یوه لاره مستقیماً فرجغان ته تللې ده. وړاندې تقریباً ۱۰ مایله لیرې د نجراب د سیند په اوږدو کې د «کندې» کلی دی او له همدې ځایه څلور درې جلا کـېـږي. د همدغو درو په ختیځې منتهی الیه کې دره په دوه وو منځغرو جلا کـېـږي او هره ئـې په فرجغان منهتي کـېـږي. ۳ نورې ئـې په پنجشیر منتهي کـېـږي.

دا دره ډېـره ګڼ وګړې ده ؛ ښاغلی ملوی وایي چې دې درې کې د تاجیکانو تقریباً ۴۰۰۰ کورنـۍ، او د صافیانو ۳۰۰۰ کورنـۍ استوګنې دي. ټول تاجیکان دلته پارسي خبرې کوي خو د «پچي ګان» [36] د درې خلک په «پشه یي» ژبې خبرې کوي. ویل کـېـږي چې اوسمهال «۱۸۹۵ز کال کې» د سپه سالار غلام حیدر خان وراره جلال الدین د نجراب حاکم دی.

د امیر شیرعلیخان له سلطنت مخکې نجراب د کابل له سلطنت څخه تل خپلواک وو، یوازې د امیر شیرعلیخان د سلطنت د دوه وو وروستیو کلونو په لړ کې نجراب اړ سو چې د امیر شیرعلیخان بیعت وکړي. امیر حاکم وټاکـهٔ او مالیات ئـې راټول کړل. د نجراب لومړنی حاکم میر آغا نومیدهٔ او ویل کـېـږي چې د خپلې دندې په لړ کې ئـې ځان ښـهٔ موړ او بډای کړ او د مالیاتو یوه کوچنۍ برخه ئـې حکومت ته سپارله. دوهم حاکم میر اکبر نومیدهٔ، میر اکبر د بد شهرت خاوند سو او دې ته اړ سو چې له هیواده وتښتي؛ او دریم حاکم عبدالکریم نومیدهٔ؛ کله چې امیر په علي مسجد کې ماتې وخوړله، عبدالکریم هم وتښتید او د نجراب خلک یوځل بیا خپلواک سو یا خپلواک کېدلو ته نېـږدې سول.

ویل کـېـږي چې د نادر شاه «افشار – ژ» پر مهال نجرابیان نادرافشار ته تر دې حده تسلیم سول چې هر یوهٔ ئـې نادر ته د لرګیو یو یو میخ د خپل بیعت د نښې په توګه ورکړله خو دوی مالیات ورنـهٔ کړل.

دا ټوله دره ښه خړوبه ده او زښته ډېـره حاصلخیزه ده. توت، غنم، وریجې، جوار او وربشې د دې درې عمده محصولات دي. ویل سوي چې دا دره د افغانستان په ټولو درو کې زښته ډېـره حاصلخیزه ده. د کوهدامن او کوهستان سوداګر له نجراب څخه هر ډول غلات په ډېـره اندازه پیري. له نجراب څخه د جلا سویو منځغرو د پورتـنیو برخو پای ټول د سرو په ونو پوښلي دي. دلته جلغوزي پریمانه دي او همدا شان چهارمغز ئـې ډېـر دي.

کوچیان هم دلته د پام وړ سوداګري کوي، کوچیان کابل ته له تللو او د کابل پر لارې له شدیدو او درندو مالیاتو څخه په اجتناب سره خپله مال التجاره له پـېـښور څخه نجراب ته راوړي. قوافل له جلال آباد څخه د لغمان پر لور جلا کـېـږي او د باد پښ د کوتل له لارې ځان د کابل د سیند په اوږدو کې نغلو ته رسوي، او له دې ځایه د تګاو درې ته او بیا نجراب او کوهستان ته رسوي.

---

[35] -Kora Kandao

[36] -Pachigan



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولـئ

له فرجغان سره هم سوداګري کېږي. د فرجغان وګړي اکثراً پودر ، سرپ، مس، رنګ، نیل، کتان جامو ته اړتیا لري، دغه توکي جنس په جنس تبادله کېږي دا اجناس عمدتاً له غوړیو، پسونو او د وزو له وړیو جوړ ګلیمونو سره تبادله کېږي. د نجراب خلک ډېر میلمه پال خلک دي او د کوهستان د استوګنو وګړو په پرتله بې تکلفه خلک دي او په ځیرو کې تر ډېره پنجشیریانو ته ورته دي خو تل له پنجشیریانو سره په دښمنۍ کې دي. ویل کېږي چې د نجراب په درې کې معدني ثروت زښت ډېر دی. (ستیوارټ، ملوی)

**نکاره**: [37] : ـ ۳۴، ـ ۷۰: دا د الینګار په درې کې یو کلی دی؛ ویل کېږي چې ۵۰۰۰ ؟ کورونه لري. دلته د رب النوع «ګل شور» [38] عظیم الجثه مجسمه سته. له چترال څخه نکاره ته د کالاش او باشګل له لارې په ۱۳ ورځو کې رسیدلای سئ. (مک نایر) اوسنی نقشې د «ننګاراو» [39] نوم په ۵۶ ـ ۳۴، ۲۲ ـ ۷۰ کې ښیي. (لودویګ آدمک)

**نیل:** «کوتل»: ۴۸ ـ ۳۴، ۲۲ ـ ۶۷ «ج»: لوړوالی: ۱۱۶۱۰ فیټه. دا یو کوتل دی چې په دریيم منزل کې د بامیان ـ دولت یار عمومي سړک ورباندې تېرېږي. دا کوتل کومه ځانګړې سختي نهٔ لري؛ دا کوتل ۴/۳ ـ ۴ مایله لیرې له «قرغه نتو» [40] څخه چې ۹۵۰ فیټه لوړوالی لري راپورته سوی دی. له کوتل څخه کوزیدل یوازې ۸۵ فیټه دی. (میتلند). دا کوتل د پروان په ولایت کې د شهیدانو د لویدیځ په نېږدې ۱۲ مایلۍ کې موقعیت لري. (لودویګ آدمک)

**نیلک کوه**: کوهٔ نیلک: دا د «کوهٔ کرغوی» [41] لپاره بل سیمه ییز نوم دی.

* **نیل او: نیل آب**: ۱۳ ـ ۳۵، ۱۷ ـ ۷۰ «ن»: دا د لغمان په ولایت کې د «ناوک زونګ» [42] په شمال ختیځ کې د «پشل» [43] د یوې څانګې په اوږدو کې یو کلی دی.

* **نیلي**: یا: نیلي: [44]: ۴۷ ـ ۳۴، ۳۲ ـ ۶۹ «ن»: دا د کاپیسا په ولایت کې د تګاب په سویل لویدیځ کې د پنجشیر سیند د یوې څانګې په اوږدو کې یو کلی دی. په دې نوم یو بل ځای د غزني په ولایت کې د نوروزي په سویل خیتځ کې په ۱ ـ ۳۳، ۴۸ ـ ۶۷ «ن» کې موقعیت لري.

**نیلي**: ۴۳ ـ ۳۳، ۸ ـ ۶۶ «الف»: دا د دایکنډي د وګړو په سیمې کې یو ځای دی.

**نمک اَو: نمک آب**: ۱ ـ ۳۵، ۵۷ ـ ۶۸ «الف»: دا یو منځغری دی چې له هندوکش څخه د غوربند پر درې راکوز سوی دی او له تـتم درې څخه تقریباً ۱۷ مایله له غوربند سره یو ځای کېږي. یو سړک د ولیان د کوتل له لارې د غوربند د درې له سره تر پایه تېر سوی دی، دا سړک د خنجانو پر درې ور کوزي سوی چې د یوهٔ منځغري له سره راغلی دی. په منځغري کې یو نسبتاً لوی سیند بهېږي؛ ویل کېږي چې د دې سیند کوزنی برخې د دوبي په فصل کې دومره ډېرې اوبهٔ لري چې پورې غاړه اوښتل ورڅخه ناشوني کېږي. سړک په ټوله لاره کې د درې کینه غاړه

37-NIKARA
38 -"Gulshor."
39 -Nengarao
40 -Karghanatu
41 -Koh -i- Kirghui
42 -Nawakzung
43 -Pashal
44 -NILAY Or NILI

نیسي، د دې لپاره چې لاره د سیند بلې غاړې ته له اوښتلو ډډه وکړه نو کله ناکله خپله مخه غرونو ته تاووي او د غرونو په منځ کې پر مخ ځي. په څوارلسم مایل کې د نمک آب د تـنګې خولـهٔ له ختیځ لوري راځي چې د« درهٔ نو یا کندیلان» [45] له تـنګې اوږدې درې څخه راغلې ده؛ د همدې تنګې اوږدې درې په سر کې یوه لاره تللې ده او ویل کـېـږي د افغان اوښانو او د آس سپرو د تګ لپاره عملي ده، دا لاره په «پیچ و پیچ کوتل» [46] منتهي کـېـږي او بیا په همدې نوم منځغري ته په رسیدلو سره ځان د «کاوشان» [47] منځغري ته رسوي، دا لاره د کاوشان د کوتل د سویل په نیـږدې ۱۱ مایلو کې د کاوشان له منځغري سره یو ځای کـېـږي. کله چې په پسرلي کې د سیند د اوبو سطحه لوړه سي او د کاوشان د منځغري کوزنی برخې څخه سرک نـهٔ سي تـېـریدای نو دا په حقیقت کې د کاوشان کوتل ته د رسیدلو یوه متبادله لاره ګرځي. (آی. بي. سي)

**ننګه لام:** [48] : ۵۸ – ۳۴، ۵۵ – ۷۰ «ن»: دا په کافرستان کې د ۸۰ کورونو یو کلی دی. دا کلی د پیچ د سیند په کیڼې غاړې کې د پیچ د سیند او د وایګل د سیند د یو ځای کیدلو ټکي ته نیـږدې واقع دی. د دواړو سیندونو د یو ځای کیدنې د ټکي له پاسه د وایګل بلې غاړې ته له لرګیو جوړ یو ښـهٔ پل تـېـر سوی دی. په ننګه لام کې اړتیا توکي پریمانه دي. (آی. بي. سي.)

**نمله:** نیمله : [49]: ۱۸ – ۳۴، ۶ – ۷۰ «الف»: لوړوالی: ۳۵۵۰ فیټه. دا د جلال آباد په ولسوالي کې د ګندمګ د ختیځ په ۲/۱ – ۵ مایلی کې یو کلی دی. دې کلي کې د خوګیانیو تقریباً ۲۰۰ کورنۍ میشتي دي. استوګن وګړي ۹۰۰ غواګاني، ۵۰۰ پسونه او وزې او ۵۰ آسونه لري. دلته تقریباً ۷۰۰ جریبه ځمکه تر کښت لاندې ده چې په اوسط ډول تقریباً ۴۴۵۰۰ هندي مونډه محصول لري. دلته وریجې، مالوچ او بـېـلابـېـل حبوبات شنـهٔ کـېـږي. علوفه باب ئـې د ۴۰۰۰ خاریو لپاره چې د یوې ورځې کفاف ئـې وکړي له دې ځایه ترلاسه کیدای سي. د نملې له ګاونډیو غرونو څخه سون توکي تر لاسه کیدای سي. دلته د اوښانو د څریدلو لپاره ښـهٔ ځای سته. د دې ځای د ځمکو مالیات د جریب پر سر څلور غیرانه نقدي او جنساً د جریب پر سر ۵ کابلي مونډه د غنمو اخیستل کـېـږي. ویل کـېـږي چې د مالیاتو ټولټال ۱۸۰۰۰ غیرانه کـېـږي.

په نملې کې یو ښکلی او زوړ باغ دی؛ ویل سوي چې دا بڼ شاه جهان ودان کړی دی؛ دا بڼ د نیلا یا شنـهٔ چنار او د سرو په ونو ډک دی. د دغو ونو دډېـریو ډډې یا بدنې ئـې د وخت په تـېـریدلو سره منځتشې سوې دي؛ د دې لپاره چې د پخوانیو وختونو او د ونو د اینبودونکو یاد تلپاتې پاتې سي نو امیر امر کړی چې د دغو ونو منځتشې ډډې دې په سمنټو ډکې سي. اوبـهٔ د باغ له بر سر څخه باغ ته ننوځي؛ په ټول بڼ کې د اوبو ۴ زیرمې دي؛ دا اوبـهٔ د بڼ له یوهٔ سره تر بل سر پورې له زیرمو څخه تـېـرېـږي چې معماري ډول جوړو سوې دي ؛ د اوبو هره زیرمه ئـې ۱۰ فیټه ارتـه ده؛ د هرې زیرمې تر منځ سقوط تقریباً ۶ فیټه دی. په خپله بڼ ۴۰۰ یارډه په ۳۷۵ یارډو کې ارت دی او ګرد چاپیره ئـې لوړ دیوالونه راتاو دي؛ کله چې امیر عبدالرحمن خان په ۱۸۸۵ز کال کې له دې بڼ څخه لیدنه وکړه نو امر ئـې وکړ چې له

45 -Dara Nao, or Kondilan
46 -Pecho- Pech kotal
47 -Kaoshan pass
48 -NIMGALAM Or NANGALAM
49 -NIMLA


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولـئ

بڼ ځخه راتاو ديوال دي له تهدابه بيرته له سره ورغول سي. د بڼ په مرکز کې د ۷۵ يارد مربع په اندازې يو تخت ځای دی چې د ځمکې له سطحي ځخه ۸ فيټه لوړ سوی دی. دلته هر ډول ميوې او ګلان پريمانه دي.

په ۱۹۰۵ز کال کې د بڼ په لويديځ – سويل لويديځ کې د ۴۰۰ يارډو په لويوالي يو نوی سرای ودان سو. بڼ او سرای دواړه په داسي ټيټ ځای کې راغلي دي چې له ختيځ، سويل او لويديځ ژيو ځخه د نملي لوړه سطحه وربانديي مسلطه ده. د همدې لوړې سطحي په سويلي ډډو کې د کمپ وهلو لپاره يو ښـهٔ ځای سته چې پريمانه اوبـهٔ هم لري. (ملسن، ونليس، آی. بي. سي. جانستن) اوسنی نقشي د «ميملې» [50] نوم ښيي. (لودويګ آدمک)

نور بيا

**ننګـرَهار: نينګرهار «الف» دا د افغانستان په ختيځ کې...**

**يادونه:** قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه لينک لاندی د ښاغلی آريا صاحب په آرشيف کی د لمړی ټوک، دوېم ټوک، دريم ټوک، ځلورم ټوک، او د پنځم ټو: ټولي برخي لوستی شئ.

[50] -Memla


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ